
تقریباً 35 کاله مخکښینې بیان

# د قبر وحشتونه

پښتو




شیخ طریقت، امیر اهلسنت، باني دعوت اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د قبر سختئ[1]

**دعائے عطار:** یارَبَّ المُصطفٰی! څوک چې دا رساله "**د قبر سختئ**" اولولي یا واوري، هغه د قبر د سختو نه **محفوظه** اوساتې او د هغه د مور و پلار سره بے حسابه اوبخښې.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

# د دُرود شریف فضیلت

یو ځل یو سوالګري د کافرانو نه سُوال اوکړو، هغوئی په ټوقه باندې **اَمِیْرُ الْمُؤْمِنِیْن،** حضرت عَلِیُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خوا ته اولیږلو کوم چې هغوئي ته **مخامخ** تشریف فرما وو، هغه [سوالګرے] حاضر شو او لاس ئې د سوال د پاره ور وړاندې کړو، هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ 10 ځله دُرُود شریف اولوستلو او د هغه ورغوے ئې دم کړو او اوئې فرمائیل: موټے دې بند کړه او کومو خلقو چې ته رالیږلے ئې لاړ شه د هغوئی په مخ کښې ئې برسیره کړه. (کافرو خاندل چې صرف په خالي پوکلو باندې به څه اوشي) خو چې کله

---

[1] ... د عاشقانِ رسول دینی تحریک دعوتِ اسلامی په شروع کښې اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ کیدونکي **مختلف** آډیو بیانونه د لیك په صورت میں په نوم "**فیضانِ بیاناتِ عطار**" د المَدینةُ العلمیه (اسلامک ریسرچ سینټر) شعبه "**بیاناتِ امیرِاہل ِسنّت**" له طرفه د ترمیم او اضافے سره پیش کړے شوي دي. اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ الکریم! په دې بیانونو کښې اوس شعبه "**هفته وار رساله مطالعه**" 25 فروری 1988ء په ګلزارِ حبیب مسجد (سولجربازارکراچی،پاکستان) کښې کیدونکے یو بیان "قبر کی ہولناکیاں" یو ځانګړي رسالے په صورت کښې **مخے** ته راوړي.

سوالګري د هغوئي مخے ته موتے برسيره کړو نو هغه د سرو زرو د دينارونو نه ډك وو! د دې كرامت په ليدلو ډير كافران مسلمانان شول. (راحت القلوب، ص72)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** زمونږ د ژوند ګاډے ډير په تيزئ سره روان دے، كه تاسو د خپل تَصَوُّر د چبوترے نه لاندې په خپل ماضي [يعني تيره شوي زمانه] باندې نظر واچوئ نو په تَصَوُّر تَصَوُّر كښې به خپل ماشوم والي ته اورسئ او سوچ به اوكړئ چې كله مونږه واړه وو نو دغه شان لوبے به مو كولے او داسې شرارتونه به مو كول. لږ غور اوكړئ! آيا داسې معلوميږي نه چې زمونږه ژوند په ډيره تيزئ سره د واورې په شان ويلي كيدو نه هم ډير په تيز رفتارئ سره تيريږي! واقعي! كله چې مونږه په خپل تير شوي وخت باندې غور كوو نو زمونږه زړه ډوبيږی چې زمونږه عمر دومره شوے دے او نِزدې ده چې زمونږ د ژوند باقي ورځې به هم تيرې شي او بيا څنګه چې مونږه خپل دا دا جان او پلار محترم په مقبره كښې پريښودے وو، دغه شان يوه ورځ به هغه هم راشي چې زمونږه اولاد، ورونه او خپل خپلوان به مونږه په مقبره كښې پريږ دي او بيرته به رانه راشي او بيا به مونږه تر قيامته پورې د هغه ځائے نه وتلے نه شو. **ياد ساتئ!** په قبر كښې به صرف نيك اعمال په كار راځي، او زمونږه دا دومره ډير مال كوم چې مونږه په خپل ژوند كښې شپه ورځ محنت كولو سره جمع كړے وو ټول هر څه به دلته [په دُنيا كښې] پاتې شي او هغه به زمونږه وارثان په خپل مينځ كښې تقسيم

کړي، لِهٰذا هوښيارتيا په دې کښې ده چې مونږه خپله ټوله توجه د مال جمع کولو په ځائے باندې د خپل قبر او آخرت په تيارئ باندې اوساتو.

چرې داسې نه وي چې مونږه د آخرت د سوچ نه غافله اوسيدو سره خپل ټول ژوند په دُنياوي مال و دولت جمع کولو کښې تير کړو او بيا د دُنيا نه په رُخصتيدو مونږه د قبر د سختو سره مخامخ شو! اوګورئ! د قبر سختيځ ډيرې زياتې دي، په دې سلسله کښې د حضرت عمر بن عبدُ العزيز رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه د آخري ورځو يوه ډيره ژړوونکې او ويروونکې واقعه پيش کووم، دا صرف په نوم نه بلکه د زړه په غوږونو سره واورئ او د قبر د سختو نه د بچ کيدلو سامان جوړ کړئ، چنانچه

حضرت عمر بن عبدُ العزيز رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه د يوے جنازے سره لاړلو نو خلق مخکښې لاړل او هغوئي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه شا ته پاتې شو. خلقو جنازه کيښوده او د هغوئي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه انتظار ئې کولو، کله چې هغوئي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه را اورسيدلو نو چا اووئيل: اے اَمِيۡرُالۡمُؤۡمِنِيۡن! تاسو خو د مړي ولي ئې، تاسو جنازه او مونږه مو پريښودو چرته تلي وئ؟ حضرت عمر بن عبدُ العزيز رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: اوس اوس يو قبر ما ته غږ اوکړو او اوئې وئيل: اے عمر بن عبد العزيز! زما نه ولې تپوس نه کوې چه کوم خلق ما ته دننه راشي زه د هغوئي سره څه سلوك کووم؟ ما هغه قبر ته اووئيل: ما ته ضرور اووايه. هغه [قبر] اووئيل: کله چه په ما کښې څوك خخ کړے شي نو زه د هغه کفن اوشلووم او بدن ئې ټکړے ټکړے کړم او د هغه وينه څښلو سره د هغه غوښے اوخورم. آيا تاسو به زما نه دا تپوس نه کوئ چه زه د هغه د جوړونو سره څه کووم؟ ما اووئيل: ضرور راته اووايه. نو هغه [قبر] اووئيل: "لاسونه ئې د مړوَندونو نه، زنګونان ئې د پنډو نه او پنډئ ئې د ښپو نه جُدا

کووم.“ د دومره وئیلو نه پس حضرت سَیِّدُنا عمر بن عبدالعزیز رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ په سلګو سلګو په ژړا شو بیا ئې اوفرمائیل: د دې دُنیا عمر ډیر لږ دے، کوم ګنهګار چې په دې دُنیا کښې عِزَّت والا دے، هغه به په آخرت کښې ډیر زیات ذلیله او خواره وي، څوك چه په دې دُنیا کښې مالدار دے هغه به په آخِرت کښې فقیر وي. د دې [دُنیا] ځلمے به بُوډا شي او څوك چه ژوندي دي هغوئي به مړه شي. لِهٰذا دَ دُنیا ستاسو طرف ته راتلَل تاسو په دوکه کښې اخته نه کړي، ځکه چه تاسو ته معلومه ده چه دا ډیره زر رخصتیدونکې ده. په دوکه کښې پریوتے هغه دے کوم چې د دې نه دوکه اوخوري. څه شُو په دې کښې اوسیدونکي؟چا چې ښارونه آباد کړي وو، نهرونه ئې ویستلي وو او ونے ئې لګولې وے، خو په دې کښې د لږې مودے پورې پاتې شو، هغوئي صحت او تندرستئ په دوکه کښې واچول او خپل طاقت هغوئي مغروره جوړ کړل نو په ګناهونو کښې اخته شو. قَسَم په خدائے! د هغه مال په سبب په هغوئي باندې افسوس کیږي کوم چې هغوئي په ډیره کنجوسئ حاصل کړے وو او د دې د جمع کولو په وجه د هغوئي سره حسد کیدلو.

سوچ اوکړئ! خاورو او شګو د هغوئي د بدنونو سره څه اوکړل؟ د قبر چینجو د هغوئي د هډوکو او جوړونو سره څه څه حال کړے دے؟ دوئي به په دُنیا کښې په نرمو نرمو بِسترو پراته وو، نوکرانو به د هغوئي خدمت کولو، د کور خلقو به د هغوئي عِزَّت کولو او ګاونډیانو به ئې مرسته کوله. اوس که تاسو هغوئي ته غږ کول غواړئ نو په لاره تیریدلو سره ورته خامخا غږ اوکړئ او که رابللے ئې شئ نو خامخا ئې را اوبلئ. د دې مړو د لښکر په خوا چې تاسو تیریږئ نو په کوم کورونو کښې چې هغوئي په

عیش و عشرت سره اوسیدل د هغې خواو شا هم اوګورئ. د هغوئي د مالدارانو نه پوښتنه اوکړئ: ستاسو سره څومره مال پاتې دے؟ د هغوئي د فقيرانو نه تپوس اوکړئ: ستاسو غريبي څومره پاتې ده؟ د هغوئي د ژبو په باره کښې پوښتنه اوکړئ په کومو به چې هغوئي خبرے کولے، د هغوئي د سترګو په باره کښې تپوس اوکړئ په کومو به چې هغوئي بد نظري کوله. د هغوئي نه پوښته اوکړئ چې د نرم پوستکو، خائسته مخونو او نرم و نازك بدن سره چینجو څه سلوك اوکړو؟ چینجو د هغوئي رنګونه لرې کړل، غوښے ئې ورله اوخوړې، مخونه ئې ورله خاورې کړل، ښکلا ئې ورله ختمه کړه، د ملا هډوکے ئې ورله مات کړو او بدن ئې ورله ټکړے ټکړے کړو او جوړونه ئې ورله ريزه ريزه کړل. د هغوئي نه تپوس اوکړئ: ستاسو خیمے او بیبیانے چرته لاړې؟ خدمت کوونکي مو چرته لاړل؟ نوکران مو څه شو؟ جمع شوي خزانے مو څه شوے؟ قَسَم په خدائے! هغوئي د قبر د پاره هيڅ څه تياري نه وه کړي، څه [د نیکئ کولو] مرسته ئې هم نه جوړه کړي، د نيکئ بوټے هم نه وو لګولے، د قبر د آرام د پاره ئې هم څه نه وو ليږلي. آيا اوس هغوئي يواځے په شاړو کښې نه دي پراته؟ آيا اوس د هغوئي د پاره شپه او ورځ برابر نه دي؟ آيا اوس هغوئي په تکه توره تياره کښې نه دي؟ آؤ! اوس د هغوئي او د هغوئي د اعمالو په مينځ کښې رُکاوټ جوړ کړے شو او د خپلو خپلوانو نه د هغوئي جدائي شوي ده. د څومره داسې خوشحاله نارينؤ او زنانؤ حالت بدل شو، د هغوئي مخونه وراسته شو، د هغوئي بدنونه د څټونو نه جدا شو، د هغوئي جوړ جدا جدا شو، د هغوئي سترګې په اننګو باندې را اوبهيدلې، خُله ئې د وينې او نَو نه ډکه شوه، د هغوئي په بدنونو کښې د زمکې چينجي ګرځي، اندامونه ئې خواره شوي دي، قَسَم په

خدائے! لږه موده کښې د هغوئي هډوکي وراسته شو، باغونه ئې ختم شو، د فراختيا نه پس په تنګئ کښې اخته شو، د هغوئي کونډو [ښځو] دويم نکاح اوکړو، د هغوئي اولاد په کوڅو کښې خوار و زار ګرځي، د هغوئي خپلوانو د هغوئي کورونه او ميراث په خپل مينځ کښې تقسيم کړل. قَسَم په خدائے! په هغوئي کښې ځينې خوش نصيبه هم دي چه د هغوئي په قبرونو کښې فراخي، رڼا او تازګي ده او هغوئي په قبرونو کښې مزې کوي. اے سبا په قبر کښې اوسيدونکي انسانه! ته د دُنيا کوم څيز په دوکه کښې اچولے ئې؟ آيا ته دا ګڼې چې هميشه به اوسې يا دا دُنيا به ستا د پاره باقي پاتې شي؟ ستا فراخه کور او ستا جاري شوې نهر چرته لاړه؟ ستا پخې شوې ميوے څه شوے؟ ستا نرئ جامے، خوشبو او لوبان څه شو؟ ستا د ګرمئ او يخنئ جامے څه شوے؟ آيا تاسو مړ کيدونے [انسان] نه دے ليدلے چې کله هغه ته مرګ راځي نو هغه د خپل ځان نه ويره نه شي لرې کولے نشي، په خوَلو کښې ډوب وي، د تَندې نه ژاړي او د مرګ د سختئ او تکليف نه اړخ بدلوي. د ربّ د بارګاه نه حکم راغلے دے، د تقدير اټله فيصله شوي ده او هغه امر [حکم] راغلے دے د کوم نه چې ته بچ کيدے نشې.

(بيا ئې د خپل ځان سره اووئيل) افسوس په کروړونو افسوس! اے د خپل پلار، ورور او ځوئ سترګې بندوونکيه، هغوئي ته غسل ورکولو والا، مړي ته کفن ورکولو او هغه ورلو والا! اے په قبر کښې يواځې پريښودلو سره بيرته تلونکيه! کاش! تا پيژندلے چې ته به په سخته زمکه کښې په څه حال کښې ئې؟ کاش! تا پيژندلے چې ستا کوم رُخسار به اوَّل سخا کيږي؟ اے په مهلکاتو [يعني هلاك کوونکي څيزونو] کښې اخته انسانه! ته به عنقريب په مړو کښې اوسې. کاش! تا ته معلوم وے چې د دُنيا نه د تللو په وخت ملكُ

الْمَوت عَلَيْهِ السَّلَام ستا سره په كوم حال كښې ميلاويږي؟ او زما د ربّ څه پيغام راوړي؟ بيا هغوئي په عربئ كښې يو اشعار اولوستل چې د هغې خلاصه څه داسې ده:

﴿1﴾ ته په ختميدونكې څيزونو باندې خوشحاله او لوبو تماشو كښې داسې مصروفه ئې څنګه چې اوده كيدونكے انسان د خوب خوند په دوكه كښې ساتي. ﴿2﴾ اے په دوكه كښې اخته انسانه! ستا ورځ په هيره او غفلت كښې او شپه دې په خوب كښې تيريږي پس ستا هلاك كيدل لازمي دي. ﴿3﴾ ته په داسې څيز كښې پريوتے ئې د كوم ختميدل چې ته ناخوښه ګڼې، داسې ژوند خو په دُنيا كښې څاروي هم تيروي.

د دې اشعارو لوستلو نه پس حضرت سَيِّدُنا عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغه ځائے نه لاړلو او د دې نه يوه هفته پس هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفات شو.

(حلية الاولياء، 5/295، رقم: 7180)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دې ژړوونكې واقعے يو يو عبارت په ړقولو ړقولو زمونږ د بيدارولو كوشش كوي، خو افسوس! ډير زيات افسوس! شايد د دې خبرو اوريدلو د پاره زمونږه غوږونه كاڼه دي او دې خبرو قبلولو د پاره زمونږ زړه هډو تيار نه دے ځكه چې هغه ډير سخت شوے دے او په هغې باندې تياره را خوره شوې ده. ممكن ده زمونږ زړه د نصيحت قبلولو د پاره په دې وجه نه تياريږي چې د ګناهونو په سبب هغه مكمل تور شوے دے. ياد ساتئ! كله چې د ګناهونو په سبب زړه تور شي نو هغه نصيحت نه قبلوي چنانچه

## په زړه باندې تور ټاكے

په حديثِ پاك كښې راځي: "يُذْنِبُ الذَّنْبَ فَيُنْقَبَضُ مِنْهُ" يعني كله چې يو انسان ګناه كوي نو د هغه په زړه باندې يو تور ټاكے جوړ شي، "ثُمَّ يُذْنِبُ الذَّنْبَ فَيُنْقَبَضُ مِنْهُ حَتّٰى يُخْتَمَ عَلَيْهِ" يعني

کله چې په دويم ځل ګناه کوي نو دويم تور ټاکے جوړيږي تردې پورې چې د هغه زړه تور شي، ”فَيَسْمَعُ الْخَيْرَ فَلَا يَجِدُ لَهُ مُسَاغًا“ د نتيجے په طور د خير خبره د هغه په زړه باندې اثر نه کوي. (تفسير در منثور، پ30، المطففين، تحت الآية:14، 446/8) هم څه دغه حال زمونږه دے چې اوس په مونږه باندې نصيحت اثر نه کوي او مونږه د نصيحت خبره نه قبلوو حالانکه مونږه خو څله د قبر رابلنې په باره کښې دا روايت اورو چې

## قبر هره ورځ پينځه ځله رابلي

قبر هره ورځ پينځه ځله په وينا وينا وائي: اے انسانه! نن ته زما په ملا باندې ښه په غرور او تکبر سره ګرځې خو ياد ساته! سبا ته زما خيټې ته را روان ئې. اے انسانه! نن ته زما په ملا باندې خوندور خوندور او ښه ښه خوراکونه کوې خو ياد ساته! سبا به په ما کښې دننه دې چينجي خوري. اے انسانه! نن ته زما په ملا باندې په غفلت سره خاندې خو ياد ساته! سبا چې ته مړ شې او ما ته دننه راشې نو ژاړې به. اے انسانه! نن ته زما په ملا باندې خوشحالي نمانځې خو ياد ساته! سبا به په ما کښې دننه په راتلو به ته غمژنه کيږي. اے انسانه! نن ته زما په ملا باندې ډير ګناهونه کوې خو ياد ساته! سبا چې په ما کښې دننه راشې نو تا ته به د خپلو کړو [اعمالو] سزا ميلاويږي.

(تنبيه الغافلين، ص23)

## په قبر کښې اور بل کړے شو

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د قبر په سختو کښې د اخته کيدو ډير سببونه دي. غيبت کولو او د ورو بَولو د څاڅکو نه د نه بچ کيدو په سبب هم بنده د قبر په سختئ کښې اخته کيدے شي. چنانچه

د **حضرتِ** سَیِّدُنا ابُو اُمامه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه رِوایت دے چې سرکارِ عالي وقار مکي مدني سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بَقِیعِ غَرقَد ته تشریف راوړلو او د دوو قبرونو خوا ته اودریدلو، اِرشاد ئې اُوفرمائیلو: آیا تاسو فلانکے او فلانکئ، یا ئې اُوفرمائیل: فلانکے او فلانکے خخ کړل؟ صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: آو جي، یارَسُولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! (د **الله** په اِذن ئې د غیبو خبر ورکړلو او) اِرشاد ئې اُوفرمائیلو: اوس اوس ئې په **قَبْر** کښې فلانکے کښینولو او اُوئے وهلو. بیا ئې اُوفرمائیل: په هغه ذات مې دِ قَسَم وي د چا په قبضهٔ قُدرت کښې چې زما ساه ده! هغه دومره وهلے شوے دے چې د هغه هر هر اندام جُدا شوے دے او د هغه په **قَبْر** کښې اور بل کړے شوے دے او هغه داسې چغه وهلي ده چې هغه د پیریانو او انسانانو نه سِوا ټول مخلوق اوریدلي ده او که ستاسو په زړونو کښې فساد نه وے او تاسو زیاتے خبرې نه کولے نو تاسو به هُم هغه اوریدلے څه چې زه اورم. بیا ئې اُوفرمائیل: اوس بل هُم وهي. بیا ئې اُوفرمائیل: په هغه ذات مې دِ قَسَم وي د چا په دَستِ قُدرت کښې چې زما ساه ده! هغه هُم په دومره زور سره وهلے شوے دے چې د هغه هُم هر هر هډوکے جُدا شوے دے او د هغه په **قَبْر** کښې هُم اور بل کړے شوے دے، هغه هُم داسې چغه وهلي ده چې هغه د پیریانو او انسانانو نه سِوا ټول مخلوق اوریدلي ده او که ستاسو په زړونو کښې فساد نه وے او تاسو زیاتے خبرې نه کولے نو تاسو به هُم هغه اوریدلے څه چې زه اورم. صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: یا رَسُولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د دې دواړو ګناه څه ده؟ اِرشاد ئې اُوفرمائیلو: وړومبے به د متیازو [د څاڅکو] نه نه بچ کیدلو او بل به د خلقو غوښه خوړله (یعني غِیبَت به ئې کولو).

(الخصائص الکبریٰ ,2/89) (صَرِیحُ السُّنَّۃِ لِلطَّبَری ص ٤٣ حدیث ٤٠)

## مسلمانانو اوېَريږئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په دې رِوايَت د غِيبَت کولو او د متيازو د ښاڅکو نه د نه بچ کيدونکو د پاره د عِبرِت بيشميره مَدَني ګلونه دي، متيازو کولو نه پس چې کوم خلق پاکي نه حاصلوي، بدن او جامے وغيره ناپاکه کوي هغوئي ته هُم ويريدل پکار دي، فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: متيازو نه بچ اوسئ عام طور عذابِ قَبْرْ په هُم دے وجه کيږي. (سُنَنِ دار قُطنی ج١ ص١٨٤ حديث ٤٥٣)

## د متيازو نه د نه بچ کيدونکي د قبر نه آواز

د دعوتِ اسلامي د مَكتَبَةُ الْمَدِينه (د 413 صفحو) کتاب "عُيُونُ الْحِكايَات" حِصَّه دويم کښې په صفحه 187 دي: حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله ابنِ عُمَر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي: يو ځل د سفر په دوران کښې زه د زمانهٔ جاهِلِيَّت په قبرستان باندې تيريدلم. ناڅاپه يو مړے د قَبْر نه را اُووتو، د هغه په څټ کښې د اور زنځير وو، ما سره د اوبو يو لوښے وو. چې زه ئې اوليدلم نو اُوئے وئيل: "اے عبدُالله! ما باندې لږے شان اوبه اوڅښه" ما زړه کښې اُووئيل: ده ما ته زما په نوم غږ اوکړو، يا خو دے ما پيژني يا د عربو د طريقے مطابق "عبدُالله" وائي. بيا ناڅاپه د هُم هغه قَبْر نه يو بل کس را اُووتلو، هغه ما ته اُووئيل: "اے عبدُالله! دے نافرمانه باندې بالکل اوبه مه څښه، دا کافِر دے." هغه دويم کس هغه ورومبے کس په راښکلو بيرته قَبْر ته بوتلو. ما هغه شپه د يوے بوډئ په کور کښې تيره کړه، د هغې د کور خوا ته يو قَبْر وو، ما د قَبْر نه دا آواز واوريدلو: بَوْلٌ وَّمَا بَوْل؟ شَنٌّ وَّمَا شَنٌّ؟ يعني "متيازے! متيازے څه وي؟ مَشک! مَشک څه وي؟" د

دې آواز مُتَعَلِّق مې د هغه بوډئ نه تپوس اوکړو نو هغې اُووئيل: دا زما د خاوند **قَبْر** دے، ده ته د دوو خطاګانو سزا ورکولے کيږي. متيازو کولو وخت کښې به ده **د متيازو د څاڅکو نه ځان نه بچ کولو،** ما به ورته وئيل چې په تا افسوس دے! چې اوښ متيازے کوي نو هغه هُم ښپے ارتے کړي او ځان د څاڅکو نه بچ کوي خو ته په دې مُعامَله کښې بالکل احتياط نه کوے، زما خاوند به زما دے خبرو ته هيڅ تَوَجُّه نه ورکوله. بيا دے مړ شو نو د مرګ نه واخله تر اوسه پورې د ده د **قَبْر** نه هره ورځ داسې آوازونه راځي. ما [د هغه بوډئ نه] تپوس اوکړو: شَنٌّ وَّمَا شَنٌ؟ يعني ''مَشک! مَشک څه ته وائي؟ '' د دې آواز د راتلو څه مطلب دے؟ بوډئ اُووئيل: يو ځل د ده خوا ته يو تږے کس راغلو، هغه اوبه اوغوښتلے، ده (د هغه د پريشانه کولو د پاره تش مَشک ته اِشاره اوکړه، او اوئے) اُووئيل: لاړ شه د هغه مَشک نه اوبه اوڅښه. هغه تږے سړے په ډيره تادئ سره هغه مَشک طرف ته ورغلو، چې راپورته ئې کړو نو هغه تش وو، د ډيرې تندے په وجه بےهوشه شولو او راپريوتلو مړ شو. نو زما خاوند چې د کله نه مړ شوے دے د نن ورځې پورې هره ورځ د ده د **قَبْر** نه دا آواز راځي: شَنٌّ وَّمَا شَنٌ؟ يعني ''مَشک! مَشک څه ته وائي؟ '' حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي: زه د رَسُولُ‌الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار مبارک کښې حاضر شوم او ټوله واقعه مې بيان کړه نو حُضُور نَبِيِّ کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يواځے سفر نه منع کړم. (عيون الحکايات (عربی) حصّه ۲ ص ۳۰۷)

## د بيلمَانځه په قبر کښې درې سزاګانے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** بيلمَانځه کيدل د قبر په سختئ کښې د اخته کيدو سبب دے، د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عبرت نه ډک فرمان

مبارك دے: څوك چې لمُونځ د سُستيځ په وجه پريږدي الله پاك هغه ته په قبر کښې درے قسمه سزاګانے ورکوي: **(1)** د هغه قبر به دومره تنګ کړے شي چې د هغه پوښتيځ به په يو بل کښې ننوځي **(2)** د هغه په قبر کښې اور بل کړے شي بيا به هغه شپه ورځ په سکروټو باندې ډېره بدلېځ را بدلېځ او **(3)** په قبر کښې به په هغه باندې يوه اژدها مسلطه کړے شي چې د هغې نوم اَلشُّجَاعُ الْاَقْرَعُ (يعني ګنجے مار) دے، د هغه سترګې به د اور وي، نوکان به ئې د اوسپنے وي، د هر نوك اوګږدوالے به د يوے ورځې په فاصله باندې وي، هغه به د مړي سره په خبرو کولو اووائي: زه اَلشُّجَاعُ الْاَقْرَعُ (يعني ګنجے مار) يم. د هغه آواز به د بجلېځ د تندر په شان وي، هغه به اووائي: زما ربّ ما ته حکم کړے دے چې د سحر لمُونځ ضائع کولو باندې دې د لمَر راختلو پورې وهَم او د ماسپخين لمُونځ ضائع کولو باندې دې د مازديګره پورې وهَم، د مازديګر لمُونځ ضائع کولو باندې دې د ماښامه پورې وهَم او د ماښام لمُونځ ضائع کولو باندې دې د ماسخُتن پورې وهَم او د ماسخُتن لمُونځ ضائع کولو باندې دې د سحره پورې وهَم، کله چې هم هغه [اژدها] هغه [بيلمَانځه] اووهي نو هغه به 70 لاسو [يعني شرعي ګزه] پورې په زمکه کښې ننباسي او د قيامته پورې به په دې عذاب کښې اخته وي. (قرة العيون معه الروض الفائق، ص384)[1]

**اے بيلمَانځو!** ياد ساتئ! که نن مو لمُونځ ادا نکړو نو د قبر په سختيځ کښې به اخته کيږئ، قسَم په خدائے! په قبر کښې د ګنجي مار چيچل به هيڅ کله برداشت نه کړے شي او بيا صرف دغه نه، بيلمَانځه ته به نور عذابونه هم ورکړے کيږي، لِهٰذا د اوس نه رښتيني توبه کړئ او خپل ذِهن جوړ کړئ چې اوس به مونږه په پابندئ سره پينځه واړه لمُونځونه په جَمعه ادا کوو او د نن نه پس به زما يو لمُونځ نه قضا کيږي.

---

[1] ... ډېرو محدثينو د دې روايت په اِسناد باندې جرح کړي ده بيا هم ډېرو علماؤ د وعظ ونصيحت په کتابونو کښې دا شامل کړے دے. (فيضان نماز، حاشيه، ص427)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د الله پاك د ذِكر نه مخ اړول هم د قبر د تنګئ او د هغې په سختو كښې د اخته كيدو سبب دے او د قيامت په ورځ به الله پاك داسې خلق ړاندها راپاڅوي څنګه چې په سيپاره 16 سورۀ طٰه آيت نمبر 124 كښې الله پاك ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِیْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِیْشَةً ضَنْكًا وَّ نَحْشُرُهٗ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ اَعْمٰى ﴿۱۲۴﴾ | [مفهوم]ترجمۀ كَنزالايمان: او چا چې زما د ياد نه مخ واړوو نو بيشكه د هغه د پاره تنګ ژوند دے او مونږ به هغه ورونډ را اوچت كړو. |

د تنګ ژوند وضاحت په "تفسير خزائن العرفان" كښې څه داسې دے:

په دُنيا كښې يا په قبر كښې يا په آخرت كښې يا په دين كښې يا په دې ټولو كښې د دُنيا تنګ ژوند دا دے چې د هدايت فرمانبرداري نه كولو سره به په بد عمل او حرام كښې اخته شي يا به د قناعت نه محرومه شي او په حرص كښې به اونښلي او ډير مال و دولت او اسبابو سره به هم د زړه خوشحالي او فراختيا نه نصيب كيږي، زړه به د هر څيز په طلب كښې آزاد وي او د حرص په غمونو كښې دا نشته هغه نشته، حال به مو په تياره كښې وي او وخت به خراب وي او د بروسه كوونكي مُومِن په شان هغه ته به آرام او فراختيا نه ميلاويږي كوم ته چې حياتِ طَيِّبه وائي او د قبر تنګ ژوند دا دے چې په حديثِ پاك كښې دي چې په كافِر باندې به 99 اژدهے د هغه په قبر كښې مسلطې كړے شي.

حضرت عبدُ الله بِن عَبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما فرمائي: شانِ نُزُول: دا آيت د اسوَد بِن عبدُالعزٰى مخزومي په حق كښې نازل شو او د قبر د ژوند نه مراد د قبر په دومره سختئ سره راجوخت كول چې د هغې سره د يو اړخ پوښتئ بل اړخ ته را اوځي او په آخرت

کښې د تنګ ژوند نه مراد د دوزخ په عذاب کښې زَقُّوم او ډيرې سرې کړے شوې اوبه او د دوزخيانو وينه او د هغوئي نوونه به د خوراك څښاك د پاره ورکړے شي او په دين کښې تنګ ژوند دا دے چې د نيکئ لارې به ورته تنګې شي او انسان به د حرامو په کسب کښې اخته شي.

حضرت عبدُ الله بِن عَبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما فرمائي: چې بنده ته لږ ميلاؤ شي يا ډير، که د الله پاك ويره نه وي نو په دې کښې څه خير نشته او دا تنګ ژوند دے.

(تفسير خزائن العرفان،پ16،طٰهٰ،تحت الآية:124،ص598)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د قبر په سختو کښې زمونږ د پاره ډير زيات د عبرت سامان دے خو شيطان په مونږه باندې مسلط شوے دے او هغه دومره زمونږ په زړونو او زمونږ په عقلونو باندې قبضه کړې ده چې نن مونږه ګناهونو نه نه پريږدو او د خپل خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خواږه سُنتونه خپلولو د پاره تيار نه يو.

نن مونږ ته که د سنتونو زده کولو د پاره د دعوتِ اسلامي د سُنتو ډك اجتماعاتو کښې د شرکت کولو او په مدني قافلو کښې د سفر دعوت را کړے شي نو مونږه تيار نه يو. ياد ساتئ! شيطان ډير هوښيار، مکار او دوکه باز دے، هغه دا نه غواړي چې مونږه د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته شو، په مدني قافلو کښې سفر او هفته واره د سُنَّتو ډك اجتماعاتو کښې په پابندئ سره حاضري شروع کړو، چرته داسې اونشي چې پاخه لمُونځ ګزاره جوړ شو. چرته داسې اونشي چې سنيما ګانو او د ډرامو فلمونو د ځايونو نه خپل تعلق ختم کړو او د جماتونو سره خپل تعلق جوړ کړو، چرته داسې اونشي چې کوم ګيرې خرئې، شپه ورځ کنرلې کوې، سندرے وائې، فلمونه او ډرامے ګورې، هغوئي نيکان جوړ شي، الله الله وئيل شروع کړي او خپل مخونه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په

سُنَّت ګيره مبارکه باندې خائسته کړي، هم دغه وجه ده چې د مُبَلِّغينو بيا بيا دعوت ورکولو باوجود شيطان مونږه د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډك اجتماعاتو کښې شريك کولو ته نه پريږدي، کله هغه په لاره کښې د دوستانو په شکل کښې ولاړ وي او کله د دُکان په برسيره کولو مونږه منع کوي.

## آخر مرګ دے

اوګورئ! په دې دُنيا کښې به تاسو زيات نه زيات 70 يا 75 کاله ژوندي پاتې شئ خو بيا مرګ راتلل دي، اوَّل مشراني بوډئ ګانې په دُعا کولو وائي چې الله پاك دې د سلو کالو کړه نو که څوك د سلو کالو هم شي آخر مري به او هغه ژوند به هم داسې وي چې کيدے شي مرګ اوغواړي، ځکه چې زيات تر د بوډا والي ژوند په محتاجئ کښې تيريږي، بنده په بستره پروت وي او واړه غټ بول تول په بستره کښې کيږي او بنده پاځيدے نشي او نه ډېره بدلولے شي چې د هغې په سبب په بستره پروت اوسيدلو سره ئې په بدن دانے را اوخيژي او زخم پکښې جوړ شي. ياد ساتئ! سل کاله د زړه خوشحالولو د پاره دي ګني په دې زمکه باندې سل کاله عمر موندونکي يو څو زره خلق به وي، نن صورتحال دا دے چې مرګ ډير زر راځي، تاسو د خپلے محلے په خلقو نظر واچوئ! معلوم به درته شي چې بوډاګان نارينه او زنانه څومره دي! هر ورځ د موټر سائيکلو او موټرو وغيره حادثے او بيا په خپل مينځ کښې جګړې وي نو دغه شان نن سبا مرګ ډير آسان شوے دے. هره ورځ د خلقو په خپل مينځ کښې جګړې کول د هغوئي د ګناهونو سزا ده ګني مخکښې به مسلمانان د يو بل حفاظت کوونکي وو. د مهاجرينو او انصارو مثال ستاسو مخے ته دے چې خپل نيم نيم سامان انصارو مهاجرينو ته ورکړو او نن مسلمان يو بل برداشت کولو ته تيار نه دي، دا ټول په دې وجه پيښيږي چې مسلمانانو د

الله پاك احكامات مات كړي دي او د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو نه ئې مخ اړولے دے. دلته دا ياد لرئ! ”د دُنياوي پريشانو او مشكلاتو په وجه د مرګ دُعا كول ناجائزه او منع دي.“ (فضائل دُعا، ص180)

## د ژوند مقصد

ياد لرئ! د الله پاك په بارګاه كښې د عِزَّت او فضيلت دار و مدار نسب نه دے بلكه پرهيزګاري ده ځنګه الله پاك په سيپاره 26 سورۀ حُجُرات آيت نمبر 13 كښې ارشاد فرمائي:﴿اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ ؕ﴾ ترجمۂ كنزالايمان: بيشكه د الله په نِزد په تاسو كښې زيات عِزَّت والا هغه دے كوم چې په تاسو كښې زيات پرهيزګاره دے.

لِهٰذا د يو مالداره، صدر او وزير كور ته تلل سعادت مندي نه ده بلكه دا دُنيا دارُ العمل او برسيره ميدان دے كوم چې هر يو په خپل خپل انداز كښې سر ته رسوي او څوك چې په نيكو كښې ځومره مضبوط وي او ځومره منډه وهلے شي هغه به مخكښې لاړ شي.

**ياد ساتئ!** د ژوند مقصد غټې غټې ډګرياني حاصلول، خوراك څښاك كول، او خوندونه اخستل نه دي. الله پاك آخر موږ ته ژوند ولے راكړے دے؟ راځئ! د قرآنِ كريم په خدمت كښې عرض كوو چې اے د الله پاك رښتينې كتابه! ته زموږ رهنمائي اوكړه چې زموږ د ژوند او مرګ مقصد څه دے؟ د قرآنِ كريم نه جواب ميلاويږي: ﴿الَّذِیْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَ الْحَیٰوةَ لِیَبْلُوَكُمْ اَیُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ؕ﴾ ترجمۂ كنزالايمان: ”هغه چا چې مرګ او ژوند پيدا كړو چې ستاسو ازميښت اوكړي چې په تاسو كښې د چا كار زيات ښه دے.“

د دې آيت مبارك لاندې په تفسير خزائنُ العرفان كښې دي: ”(يعني دا مرګ او ژوند ئې د دې د پاره پيدا كړے دے چې ازميښت اوكړے شي چې) د دې دُنيا په ژوند كښې

خوك زيات مطيع (يعني فرمان بردار) او مُخلص دے.“

(خزائن العرفان، پ29، ملک، تحت الآية:2، ص1040)

## بےهوشه شو او را اولويدو

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د خدائے د پاره د هوش نه كار واخلئ! په خپل عقل باندې زور راولئ چې مونږه دې دُنيا ته ولے راغلي يو؟ نن مونږه د خپل آخرت په باره كښې غور و فكر اونكړو او كه څوك زمونږ مخے ته د آخرت د سوچ په باره كښې د قرآنِ كريم آيتونه اولولي يا احاديثِ مباركه بيان كړي نو په مونږه باندې د الله پاك ويره نه راځي او زمونږه اسلافو (يعني بُزُرګانِ دينو) به چې د آخرت د فكر مُتَعَلِّق آيتونه واوريدل نو بے هوشه به شو يا بيا به د دې فاني دُنيا نه رُخصت كيدل، د مسلمانانو دويم خليفه اَمِيرُالْمُؤْمِنِيْن، حضرت عمر فاروقِ اعظم رضي الله عنه فرمائي: څوك چې د الله پاك نه ويرېږي، هغه غُصَّه نه ښائي او څوك چې د الله پاك په نِزد باندې تقوىٰ اختياروي هغه خپله مرضي نه كوي او كه قيامت نه وے نو مونږه به څه نور څه ليدلے، بيا حضرت عمر فاروقِ اعظم رضي الله عنه دا آيتِ مباركه اولوستلو:﴿ اِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ ۝١ ﴾ (پ30، التكوير:1) ترجمهٔ كنزالايمان: ”كله چې لمَر راغونډ كړے شي. بيا چې كله دې آيت ته را اورسيدلو: ﴿ وَ اِذَا الصُّحُفُ نُشِرَتْ ۝١٠ ﴾ (پ30، التكوير:10) ترجمهٔ كنزالايمان: ”او چې كله اعمال نامه برسيره كړے شي. ”نو بےهوشه شو او را اولويدو.“ (احياء العلوم، 226/4)

## زه د مجرمانو نه يم

حضرت مِسوَر بن مَخرَمه د ويرې د سختئ په وجه د قرآنِ كريم نه په څه لوستلو باندې قادر نه وو تردې پورې چې د هغوئي په مخ چې كله يو حرف يا آيت لوستلے كيدو


نو چغه به وهله او بےهوشه کيدلو به، بيا به ډېرې ورځې هغوئي په هوش کښې نه راتللو. يوه ورځ د قبيله خثعم  يو كس د هغوئي خوا ته راغلو او هغوئی دا آيتونه اولوستل: ﴿يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ اِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا ﴿۸۵﴾ وَّ نَسُوْقُ الْمُجْرِمِيْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿۸۶﴾﴾ (پ16،مريم:85،86)ترجمهٔ كنزالايمان: ”په كومه ورځ چې مونږه پرهيزګاران رحمان طرف ته بوځو ميلمانه جوړوونكي او مجرمان دوزخ طرف ته بوځو تكي.

د دې په اوريدلو هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه اوفرمائيل: هائے! زه د مجرمانو نه يم او د پرهيزګارانو خلقو نه نه يم، اے قاري! بيا ئې اووايه: هغه بيا اولوستل نو هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه يوه چغه اووهله او د هغوئي روح د بدن نه اووتلو.

(احياء العلوم، كتاب الخوف والرجاء، 4/227)

**خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليدل! زمونږه اسلاف څومره د اللّٰه پاك نه ويريدونكي وو خو زمونږه مُعامَله د دې خلاف ده! اوګورئ! ژوند ډير لږ دے او نِژدې ده چې مونږه به د تيارو نه ډك قبر ته كوز كړے شو، لِهٰذا د خپل قبر و آخرت فِكر كولو سره د ګناهونو نه بچ شئ او ښې ښې نيكئ اوكړئ. كه چرې ګناه كول مو زړه غواړي نو دا سوچ كوئ چې ”اللّٰه پاك ماويني او مونږه د هغه په سلطنت كښې يو“ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! تاسو به د ګناه نه بچ شئ.

د راروانې هفتې رساله





عالمي مدني مرڪز فيضان مدينہ محلہ سوداگران پراڻي سبزي منڊي ڪراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net